محمد انور آخر
۲۰۲۲/۰۱/۰۹

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

نولسمه برخه

### ویتنام

#### د جګړې له امله اوښتي زیانونه(1)

د ویتنام وګړي له ۳۳ کلونو زیات د خپل هېواد د آزادۍ لپاره له فرانسویانو، جاپانیانو، امریکایانو، د امریکا له متحدینو او لاس پوڅو سره په میرانه او زړورتیا وجګړېدل چې په پای کې بریالي او سرلوړي شول، ویتنامیانو وروسته له جګړې خپله بشپړه آزادي تر لاسه کړه، خو کله چې جګړه پای ته ورسیده، له بده مرغه چې دغه جنګ ځپلي هېواد ته لوی، لوی زیانونه اوښتي وو، امریکایانو په ویتنام کې (۱۶) کاله جګړه وکړه (۱۹۵۹- ۱۹۷۵ز) نږدې درې میلیونه بې ګناه ویتنامیان یې ووژل په ویتنام کې امریکایانو نه یوازې د ویتنام له خلکو سره دښمني درلوده بلکې د ویتنام له ځارویو او نباتاتو سره یې هم دښمني کوله، سربېره پر دې امریکایانو د ځنګلو اوبه هم مسمومې یا زهرجنې کولې چې له امله یې انسانان، کورنې او وحشي ځاروي له منځه تلل. (بر ترازد راسل: جنایات جنګ در ویتنام،فارسي ژباړه: ایرج مهدویان ۱۴۸مخ)

د هغو کیمیاوي توکو د کارولو له کبله چې امریکایانو د ویتنام پر ځنګلونو باندې د ونو د پاڼو د سوزولو او توږلو په موخه له هوا څخه پاشل، د انسانانو، ځارویو او ونو بوټو د منځه وړلو سره، سره، (۷۸) ډول، ډول الوتونکي مرغان هم له منځه ولاړل. (هماغه کتاب،۵۲ مخ)

امریکایانو د ویتنام پر ځنګلونو باندې له هوا څخه، له اتیا میلیونو لیترو زیات کیمیاوي زهرجن توکي شیندلي وو چې له امله یې د ځنګلونو ونې وچې شوې او هر ډول فصلونه، واښه، ځناور او انسانان یې مسموم کړي وو...
(غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون، ۱۴۷مخ)

د ویتنام (هندو چین) په سیمه کې د امریکایانو د پاتې شویو ناچاودلو بمونو او کیمیاوي توکو له امله تر نن ورځې پورې خلک وژل کیږي او د سر او مال زیانونه وینې، دغه زهرجن کیمیاوي توکي تردې کچې خطرناک وو چې په خپله امریکایان او امریکائي پیلوټان چې دغه توکي یې د ویتنام پر ځنګلونو شیندل په کنو ناروغیو اخته شوي دي، له دې څخه پوهیدلی شو چې د ویتنام وګړي چې دا ډول زهرجن کیمیاوي توکي مخامخ پرې پاشل کیدل اغېز به یې تر کومې کچې وي؟ د امریکایانو د کیمیاوي توکو ناوړه اغېز او د ناچاودلو بمونو د زیانونو په اړه د بې بې سي، عیني شاهد (د خبریال د سترګو لیدلي حال) په یو راپور کې په زړه پورې مالومات راتول شوي دي، په راپور کې داسې راغلي دي: څو میاشتې وړاندې مې واوریدل چې زما دوست (جارج بوچو وېسکي) مړ شوی، ډاکټرانو ورته ویلي وو چې سرطان [Cancer] یې دی، د یو ډول کیمیاوي موادو (ایجنټ اورنج) له کبله په دغه ناروغۍ اخته شوی ؤ، جارج د ویتنام د جګړې په وخت یو امریکایي پیلوټ ؤ، د لاؤس او ویتنام په ځنګلونو به یې بریدونه کول، دا حملې ډېرې په [پټ] راز کې ساتل شوي وې، خوګک ترې نه وو خبر، جارج به ډېر ښکته پرواز کولو چې د دښمن له ډزو ځان خوندي وساتي، د جارج دنده (د هوشي مین لاره) [په نوم] د دښمن [ویتنامیانو] د فعالیتونو څارل وو، دا د شمالي ویتنام د رسد یا مهماتو [د رسولو] لاره وه چې د ویتنام په جګړه کې یې ډېر اهمیت لرلو، د رسد [اکمالاتو] په دغه لاره یې هوایي بریدونه کول، یوه خطرناکه دنده وه، د جارج په جوپه یا (سکواډرن) کې (۱۵۷) پیلوټان وو چې د (۳۴) پیلوټانو الوتکې دښمن راغوځولي وې، عجیبه دا ده چې جارج په دغه خطرناک مهم کې بچ راوتلی ؤ خو یو بل پخوانی ماموریت یا مېشن یې د مړینې علت ؤ، د جارج هغه کار دا ؤ چې د نورو هغو الوتکو په ژغورلو کې یې مرسته کوله چې د (ایجنټ اورنج) په نوم زهرجن مواد یې په ځنګلونو شیندل خو بالاخره دی په خپله د دغو زهرجنو موادو ښکار شو، دا کیمیاوي مواد د ونو بوټو پاڼې سوزوي، د مرکزي ویتنام (داناګ) سیمه کې دا مواد زېرمه وو او له دې ځایه به په الوتکو کې د بریدونو لپاره باریدل، (داناګ) نن هم د نړۍ

---

(1) په ویتنام کې د جګړې له امله اوښتي زیانونو په اړه د لیکنو په دریېمه برخه (په ویتنام کې د یرغلګرو جنایتونه) کې تر یوې کچې پورې یادونه شوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

يوه داسې سيمه ده چېرته چې د پيدايشي معذورو [کسانو] شمېر له ټولو زيات دی. له جارج سره مې په ۲۰۱۳ز، کال کې ليدلي وو، هغه ځای کې مې له يو بل پخواني امريکايي پوځي سره ليده کاته وشول.
(خماوون) د چونې غرونه او ځنګلونه لري چې په يو وخت کې کمونستانو د رسد د پټو لارو په توګه کارول ځکه دوی نه شول کولی چې د کلکې پوځي څارنې له کبله جنوب ته جنګي سامان لات او خوراکي مواد ورسوي، دا لاره په غرونو کې بې طرفه لاوس ته رسيدلې ده.
جارج اوس (۷۳) کلن ؤ، ځلانده آبي سترګې يې لرلې يو باروبه شخصيت ؤ خو لکه د پخوانو پوځيانو دی هم د ځينو ورکو پلټونکی ؤ، موږ درې واړو د يو استرالياوي د ځنګلونو د لارو د کارپوه (ډګوي) سره د (موګيا) تنګي د شاوخوا سيمو جاج واخيستلو چې د (ترنسنګ) له غرونو تېرېږي، هم دې ځای کې د شمالي ويتنام ځواکونه لاؤس ته داخليدل، وسله والو به د بمونو او کيمياوي مواد په دې ککړو لارو سفر کولو، له يو داسې ځای به تېريدل چې (د مرګ د دروازې) په نوم وپېژندلی شوه، د اوږد مزل وروسته به دوی د ټرکونو، سايکلونو، هاتيانو او خلکو اوږد قطار کې شامل شول لکه د مېږو د قطار د جنوب پر لور د خوځښت پرته بل هېڅ مقصد يې نه درلود، امريکايان بې قراره وو چې څنګه هانوی [شمالي ويتنام] په جنوب کې د بغاوت له ملاتړه راوګرځوي، امريکا په لاؤس کې څه د پاسه دوه نيم ميليونه ټنه بمونه غورځولي وو، د دوه ېمې نړيوالې جګړې نه هم ډېر، د ۱۹۶۵ او ۱۹۷۳ز، کلونو تر منځ په دې سيمه، په اوسط ډول په هرو اتو مينټو کې بمباري شوي وه، بمونو ټول منظر بدرنګه کړی دی او ځينو بمونو خو دومره کندې جوړې کړي دي چې يو روغ جيپ [ګاډی] په کې ځايولی شي، دا ځنګلونه د ناچاودلو بمونو او ماينونو ډک دي، د (موګيا) سره مو تر ټولو نږدې کلي کې وليدل چې خلکو د بمونو په توکو خېمې جوړې کړي دي، ځوانان د الوتکو د پاتې شونو جوړې شوي کېښتيو [بېړيو] کې ګرځيدل او د غوګانو جرسونه [ګينګړي] د راکټو د زړو پرزو [د کارتوسو له نليو] جوړ شوي وو.
چې واپس راتلو يو سړي راته وويل: پام کوئ چې کوم ځای کې ګرځيدلی، هلته څو کاله وړاندې د ده زوی وړيزو بمونو وژلی. د جګړې په وخت کې په لاؤس کې چې څومره خوشه يي يا وړيز بمونه غورځول شوي دي د هغو نيمايي برخه د ټينس د ټوپ يا بال برابر بمونه دي چې لا هم خلک وژني د دې بمونو پېژندل آسان نه وي، په يوه کڅوړه يا جاجر کې (۶۰۰) دغه واړه بمونه ځايېدی شي دېرش سلنه لا هم داسې پراته دي، د (اېډواېډري) د يو ګروپ په نوم د مين پاکونې يوې ډلې يوازې په (ناب) کلي کې (۲۵۰۰) بمونه شنډ کړي دي خو پوره صفايي به بې څو لسيزې اخلي، تر څو چې خلک په ډاډ سره په دې کلي کې وګرځي، په هم دغه ورځ ماسپښين موږ په ځنګل کې په يوه لاره روان وو چې ناڅاپه زموږ ملګري (ډېګوي) چيغه کړه:«ودرېږئ» د وړيزو بمونو کڅوړه هلته پرته وه او نږدې وو چې موږ څلور واړه يې الوزولي وای، ملګري راته وويل: هر کس دې د يو بل نه پنځلس متره لېرې واټن وساتي ځکه که بمونه چوي نو يو کس به رانه وړي نور خو به بچ وو، په يره [وېره سره مو] خپل جيپ ته ځان ورساوه. د ۱۹۷۵ز، کال راهيسې په لاؤس کې د دې ډول ناچاودلو بمونو د لاسه له (۲۰،۰۰۰) ډېر کسان وژلی شوي يا ژوبل شوي دي، يوازې سږ کال (۱۳) کسان وژلی شوي دي چې نيمايي يې ماشومان دي، دا وړيز يا خوشه يي بمونه يوازې وژل او معيوبول نه کوي د کر کرهڼې ځمکې شاړې کوي، ټولنيز او اقتصادي پرمخ تګ شلوي، د لاؤس دا سيمه د سرو زرو، کاپرو او بوکساېټ لوی کانونه لري خو يوې داسې جګړې [يې] د راسپړلو مخه نيولې ده چې د سيمې خلک هېڅ ورسره اړه نه لري، په ۲۰۱۶ز، کال کې ولسمشر اوباما د امريکې لومړی ولسمشر شو [ؤ] چې د لاؤس سفر يې وکړ، د وړيزو بمونو او نورو وسلو د شنډولو لپاره يې نوي ميليونه ډالره اعلان کړي خو که د امريکا د اوو سوو اتلسو ميلياردو دفاعي بودېجې ته وکتلی شي نو دا بيا بيخي ناکافي پيسې دي، سره له دې چې (۱۰۸) هېوادونو د خوشه يي بمونو د بنديز تړون لاس ليک کړی دی خو اوس هم بمونه ويجاړي او تباهي رامنځ ته کوي او خلک وژني، دا تېر کال په سوريه او ليبيا کې دا ډول بمونه استعمال شوي دي خو د لاؤس په ډول يوازې عادي خلک تري کړيږي، [نه] سياست دانان نه چې د دې وسلو د استعمال حکمونه ورکوي.
د جنوبي ويتنام (۲۴۰۰) کلي چې د جنوبي ويتنام لاس پوڅي حکومت له ولکې بهر وو، (۱۶۰۰) کلي د امريکايانو او جنوبي ويتنام د هوايي بمباريو له امله وران او ويجاړ شول، يوازې د ۱۹۶۲ز، کال په اوږدو کې د متحده ايالاتو هوايي ځواکونو (۵۰،۰۰۰) واره په يادو کليو بمباریَ ترسره کړې وې. (جنايات جنګ در ويتنام، ۵۱ مخ)
هغه کلي چې د جنوبي ويتنام حکومت تر څارنې لاندې وو چې (د دولتي کليو په نوم ياديدل) او اووه ميليونه کسان په کې اوسيدل (۱۶۰،۰۰۰) ويتناميان يې وژل شوي، (۷۰۰،۰۰۰) کسان شکنجه شوي او (۳۵۰،۰۰۰) تنه ويتناميان د سياسي بنديانو په نوم بنديان شوي وو. (هماغه، ۵۲ مخ)
سربېره پر دې د (سي، آی، اې) اداري په جنوبي ويتنام کې (د ققنوس عملياتو) په نوم، شل زره عام ويتناميان په دې تور بې محاکمې په پټه اعدام کړل چې ګواکې له کمونستانو سره پټې اړيکې لري ... . (پروفيسور هواډ زين: داستان امريکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي ،۲۹۱مخ)
کله چې جګړه پای ته ورسيده اووه ميليونه ټنه بمونه د ويتنام پر خاوره غورځول شوي وو، نږدې (۵۰۰) پونډه بمونه د هر ويتنامي پر سر رسيدل، ياني د دويمې نړيوالې جګړې دوه برابره بمونو په کچه چې په آروپا او آسيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

باندي غورځول شوي وو، داسي اټکل کيده چي شل ميليونه کندې د بمونو د غوځولو په پايله کي د ويتنام په خاوره کي جوړې شوي وې. (هماغه کتاب،٢٩)
دا شان ځينو نورو ليکوالانو ليکلي چي د امريکا متحده آيالاتو پوځ او متحدينو يي تر (١٤-١٥) ميليونه ټنه چاوديدونکي توکي پر ويتناميانو وغورځول، د دغو بمونو د چاودني ځواک د هغه آټومي بم په پرتله چي د جاپان په هيروشيما ښار باندي، په دويمه نړيواله جګړه کي د امريکا له خوا غورځول شوی ؤ، (٧٢٠) برابره ؤ. (شکست امريکا، ويتنام از دين بين فو، تا سايګون ، ١٧٨مخ)

**د امريکا متحده ايالاتو او متحدينو زيانونه:**

نه يوازې دا چي امريکايانو ويتنام ته د سر او مال زيانونه واړول بلکي امريکايانو ته هم د سر او مال زيانونه واوښتل، بده خو لا دا چي امريکايان له نه جبرانيدونکي تاريخي زيان سره هم مخ شول چي د تاريخ له پاڼو يي هيڅ کله نه شي پاکولی، زما په خيال له هر ډول زيانونو څخه لوی زيان تاريخي بدنامي ده چي چا ته ورغاړې شي.
د ويتنام جګړې د زيانونو په هکله آغلي صفيي حليم په خپله ليکنه (د ويتنام جنګ) کي ليکي:«تر ١٩٧٣ز، کال پورې په ويتنام کي د امريکا ٥ لکه پوځ کي ٢٠ سلنه يي په اپيمو روږدي وو. په دغه جنګ کي د امريکا ٥٨ زرو نه زيات پوځيان مړه، يو نيم لک يي زخميان او ٢٠٠٠ شا و خوا ورک شول. د جنوبي ويتنام ٢٣٠ زره پوځ ووژل شو. له يو ميليون سلو زرو څخه زيات يي زخميان شول. تر ټولو زيات زيان د شمالی ويتنام (ويت کنګ) ته ورسيده، د دوی ١١ لکه ٧٦ زره وګړي مړه او ورک شول. شاوخوا ۶ لکه خلک يي ټپيان وو. د چين ١۴۴۶ پوځيان مړه او ۴٢٠٠ زخمي وو. د دې نه علاوه د روس، جنوبي کوريا، لاوس، استريليا او د تايليډ پوځي او غير پوځي کسان هم ېکي مړه او زخميان شول. د پوځ نه علاوه د جنوبي ويتنام ١۶ لکه -د کمبوډيا ٨١ زره- د شمالي ويتنام ٧ لکه او د لاوس ۵٠ زره عام ولس ووژل شو.»
امريکايي ليکوال پروفيسور هواړ زين د ويتنام په جګړه کي د امريکايي ځواکونو د تلفاتو په اړه ليکي:«امريکايانو خپل پوځي ځواکونه له ويتنام څخه په داسي حال کي وايستل چي ١٢٠ زره امريکايان وژل شوي وو.»
هواړ زين زياتوي:«د جګړې د اوږديدو له امله ورځ تر بلي د امريکا د پوځيانو تېښته لاپسي لوېيدله، په زرګونو تنه پوځيان لوېديځي اروپا، فرانسي، سويډن او هالنډ ته وتښتيدل چي ډېری يي د کاناډا له پولي تښتيدلي وو، ځيني وايي چي (۵٠ زره) تنه وو او نور وايي چي (١٠٠زره) تنو ته يي شمېر رسيږي، له جګړې دغه تښتيدلي کسان يي په متحده ايالاتو کي پاتې شول او يو شمېر نورو يي د خپلو قومندانانو پر وړاندې پورته شول، نور يي په کليسګانو کي پټ شول چي په هغه ځايونو کي د جګړې ضد کسانو او نورو خواخوږو له خوا ساتل کيدل... د بوستون په پوهنتون کي (١٠٠٠) تنه محصلينو د پوهنتون د لمونځ په ځای [کليسا] کي د يو تښتيدلي عسکر (ري کرول) په ملاتړ پنځه شپې ورځی تېرې او شپې يي په وينه سبا کړې. (داستان امريکا، ٢ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي، ٣١۶مخ)
د پورته يادو شويو زيانونو پرته د ويتنام په جګړه کي امريکايانو هر کال په ميلياردونو ډالر لګول چي د ١۶ کلونو په اوږدو کي يي (٧٣٨) ميليارده ډالر، سره د لويي بدنامی له لاسه ورکړل. (۵ جنګ پر هزينه تاريخ امريکا را بشناسيد)

**له جګړې وروسته د ويتنام اقتصادي پرمختګ:**

سره له دې چي سراسر ويتنام د امريکايانو د بمباريو له امله ويجاړ شوی ؤ، کله چي د امريکا ولسمشر جمي کارټر د امريکا ولسمشر وټاکل شو نو له ويتنام سره يي له مرستي انکار وکړ، په دې اړه په يوه خبري غونډه کي له هغه وپوښتل شول، کارټر يي په ځواب کي وويل:«په دې تړاو هيڅ ډول ځانګړي ژمنه نه ده شوي ځکه چي ورانی او زيانونه دواړو خواوو ته اوښتي دي.» (داستان امريکا، ٣ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي١٠٠مخ)
نن ورځ د ويتنام سوسياليستي جمهوريت وګړي له (٩۶) ميليونو تنو هم زيات دي او د نړی پنځلسم ګڼ مېشتی هېواد شمېرل کيږي، وروسته له هغې چي ويتناميانو خپله آزدي ترلاسه کړه، په ١٩٧٩ز، کي يي پر کامبوجيا بريد وکړ چي پروړاندي يي چينايانو په همدې کال کي په ويتنام يرغل ترسره کړ چي له امله يي د هېواد بيارغونه او اقتصادي پرمخ تګ وځنډول شو، ويتناميان لکه څرنګ چي له يرغلګرو سره په سړه سينه په ميرانه وجګړيدل همداسي يي د خپل هېواد د بيا آبادولو په برخه کي له صبر او زغمه کار واخيست[2]، د ويتنام د خلکو د صبر او زغم پايله وه چي نن ورځ د دوی هېواد په اقتصادي لحاظ په ښه حالت کي دی او د بريا پر لور درومي. د ويتنام هېواد د اقتصاد په ډګر کي وروسته له چين څخه ښه پرمخ تګ کړی دی او په چټکی سره د پرمخ تګ په حال کي دی، ويتنام خپل اقتصاد په ډېره ښه توګه پر مخ بيايي، له دې امله ده چي (د آسيا د اقتصاد د زمري) ستاينوم (لقب) په نظر کي ورته نيول شوی دی.

(https://go2tr.co/vietnam)

نور بيا

---

(2):په ويتنام کي صبر او زغم کول له خورا مهمو قوانينو څخه دی، ځوک حق نه لري خپل کار په بېړه ترسره کړي.https://go2tr.co/vietnam


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ